# د پټې خزانې د څلرم چاپ سريزه

لکه چي د دغه کتاب د لومړي چاپ له سريزي (۱۳۲۳ _ ۱۹۵۷ ع) ښکاري د پټې خزانې خطي نسخه ما په (۱۳۲۲ ش) کال په پښين کي د مرحوم علامه عبدالعلي خانوزي کاکړ په وسيله پيدا کړه، لومړی مي په دری ترجمه کړه، شروح او تعليقات مي پر وکښل او په (۱۳۲۳ ش) کال د پښتو ټولني له خوا خپره سوه. په (۱۳۲۹ ش) کال د لومړي چاپ له مخه د تاليف او ترجمې د رياست له خوا په ډېر نفاست ۵۰۰۰ نسخې بيا چاپ سوه، او لکه چي معلومه وه د دغه کتاب نسخې ډېري لږې سوي وې، هماغه ۆ چي په (۱۳۵٤ ش) کال يې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د پښتو د پرمختيا او پياوړتيا د آمريت له خوا له اصلي خطي نسخې نه په آفيستي ډول درېيم ځل هم چاپ سو.

له کومه وخته چي دغه کتاب نشر سوی دی د دغو درې دېرشو کالو په موده، ډول ډول خبري د دغه کتاب په باب اروېدل سوي دي او مختلف شکوک د ځينو خلکو له خوا پر ښکاره سوي دي، چا وويل چي دغه کتاب ما جوړ کړی دی او ځينو بيا دا خبره کړې چي محمد هوتك دغه کتاب د خپل حکمدار شاه حسين بن حاجي ميرويس خان د خوشحالۍ لپاره جعل کړی دی، همدارنګه د اروېدلو او نه اروېدلو وړ ځيني خبري په دغه موده کي ويل سوي دي. مګر متاسفانه چي دغو محترمو نقادانو پر دغه کتاب په مستدل او علمي شکل څه نه دي ليکلي چي سړی يې د اروېدلو او منلو وړ انتقادونه واروي او که يې خبري او استدلالونه د رد وړ وي څه پر وليکي.

متاسفانه تر اوسه پوري د علماوو او دانشمندانو له خوا پر دغه کتاب مفصل بحث نه دی سوی، او هغه څه چي په دې خصوص کي ليکل سوي هغه ډېر مجمل او تش د شك اظهار دی نه کوم علمي او قوي انتقاد، چي د ژبپوهني او ريښه پېژندني د اصولو له مخه د کلماتو پر اصالت او جعليت بحث سوی وي او د هغو له مخه حقايق روښانه سوي وي.

د فروفيسور مارګنسترن ليکني :-

کله چي په (۱۳۲٤ ش) کال معروف ناروېژي ژبپوه مارګنسترن کابل ته راغی نو ما د دغه کتاب په باب له ده څخه چي چاپي نسخه مي دمخه ورلېږلې وه، د نظر غوښتنه وکړه ده ځواب راکړ، زما مطالعه په پښتو ژبه کي تر دې حده نه ده رسېدلې چي پر ادبياتو او د شعر پر سبکونو او د تحول پر ادوارو يې څه ووايم. خو کله چي همدغه ژبپوه د اسلامي دايره المعارف د انګليسي ايډيشن په دوهمه طبع کي د پښتو په باب څه ليکلي، هلته وايي:

"پښتو په خپل اصل کي د اېراني ژبو څخه يوه ژبه ده، چي له هندو اروپايي ژبو څخه يې آزادانه مواد اخيستي دي، او زياتره د اېراني اصواتو د تبادلې قواعد پکښي جاري دي او د ختيځو اېراني ژبو په قطار کي درېږي، او له هغو ژبو سره مطابقت او شباهت لري، او دا ګومان کيږي چي د شمالي ساکي ژبو له پاته سويو لهجو څخه وي ځکه چي روابط يې ډېر او سره تړلي دي.

تر اوسه پوري د پښتو ادبياتو قدامت له ۱۷ مي پېړۍ نه تېرېده، خو د (۱۹٤۰ م) کال په کابل کالنۍ کي عبدالحي حبيبي د تذکره الاولياء څو پارچې خپرې کړې چي عمر يې دوهمي هجري پېړۍ ته رسي، او همده په (۱۹٤٤ ع) کال د محمد هوتك پټه خزانه خپره کړه، دغه کتاب په (۱۷۲۹ ع) کال په کندهار کي کښل سوی دی. دا کتاب د پښتو شاعرانو يوه تذکره ده چي له اتمي عيسوي پېړۍ څخه د مؤلف تر عصره د ځينو شاعرانو حال او د کلام نمونې پکښي راغلي دي. خو ځيني تاريخي او ژبني ژور پرابلمونه منځ ته راولي او د اصالت خبره به يې هغه

وخت ثابته سي چي خطي نسخې يي د فيلالوژئ له نظره وكتلي سي. كه چيري د پټې خزانې اصالت ومنل سي، نو هغه زوړ شعر چي محمد هوتك يې وخت تعيين كړی د شك وړ دی، ځكه د راورټي په قول شيخ ملي د يوسفزو تاريخ په (۸۲۰ ق) كښلی دی او تر دې زيات موږ خبر نه يو."

(اسلامي دايره المعارف ۲۲۰/۱ د لندن طبع ۱۹۶۰)

اوس موږ دلته موقع غنيمت گڼو او د نوموړي دانشمند په خبرو تحليلي كره كتنه كوو.

لومړی : دا چي ده پښتو ژبه د ساكي ژبو له پاته شونو څخه گڼلې هيڅ د تعجب او تامل وړ نه ده او په دې كي هيڅ شك نسته چي په ټولو آريايي ژبو كي ورته والی او نزدېكت ليدل كيږي، ځكه چي دغه ژبي د هندو اروپايي (آريايي) ژبو له كورنۍ څخه گڼل كيږي، په دې ترتيب اوس هم موږ په پښتو كي زړې آريايي كلمې مومو، لكه آريانا وېجه (په اوسنۍ پښتو كي اوېجه د ټاټوبي په معنی ده) يا آريا ورشه چي (ورشو چراگاه) د پښتو ژوندۍ كلمه ده. همدارنگه په سلگونو ويدي، اوستايي، ميدي او د فرس قديم كلمې په دې ژبه كي مشتركي ليدل كيږي، او د ساك په نامه اوس په پښتنو كي يوه قبيله هم سته. خو هغه څه چي ناروېژي دانشمند له شرقي اېراني ژبو سره د دې ژبي د نښتون په باب ويلي دي په دې برخه كي ډېر دلايل له موږ سره سته چي دغه ژبه يوه باختري ژبه وبولو چي له هندي (شرقي) او اېراني (غربي) ژبو سره د اتصال د كړۍ حيثيت لري، ځكه د ږغپوهني د جملو د ساختمان او د كلماتو د ريښه پېژندني له پلوه ډېر زيات ورته والی له شرقي (هندي) ژبو، لكه : ويدي، سنسكريت او پراكريت سره لري او همدارنگه له اېراني او حتی آريايي اروپايي ژبو سره يې صوتي او لفظي او ساختماني مشتركات سته.

دغه ژبه د ( ټ، ډ، ړ، ڼ) په اصواتو كي له هندي ژبو سره او د (څ، ځ، ښ) په اوازونو كي له غربي آريايي ژبو، لكه سلاوي، آلماني او نورو سره نزدېوالی لري، نو بنا پر دې يې يوه شرقي اېراني ژبه گڼل د تامل وړ خبره ده، او پښتو ژبه هم لكه د افغاني كلتور نور مظاهر داخلي او نور شرقي او غربي نوي راغلي عناصر لري، د سُرخ كوتل له كتيبو څخه ښكاري چي په دوهمه پېړۍ كي باختري كوشاني ژبي زاړه پښتو او دري عناصر درلودل چي له دغي جملې څخه آب، نو بخت او شا خالصي دری كلمې او بگ لوی او مال وخت ژوندۍ او مستعملي پښتو كلمې دي، پوهو (پور) بدين (بدين) ايوگ او بوروز مهر او فرومان او نور له پهلوي سره نزدېكت ښيي، د معاصر تاريخ پوهاند ټاينبي له قوله چي وايي افغانستان تل د مدنيتونو د څلور لاري په توگه پاته سوی نو پښتو ژبه هم بايد د شرقي غربي او شمالي قديمو آريايي ژبو د اتصال كړۍ وگڼو. د (دز _ دژدی) كلمې چي د حصار معنی درلوده د سرخ كوتل د كتيبې په رسم الخط كي (ليز) ده په شمال او سغد كي (ديزه) يو وروستاړی و چي د نومونو له آخر سره به نښت لكه چاكرديزه، په سمرقندي كي مشهور هديره او يا شاليز چي په غزني كي د يوه ځای نوم دی يا ورواليز چي په والوالج معرب شكل واوښت.

په دې ډول باختري كوشاني ژبه هم د نورو فرهنگي مظاهرو په څېر د شرقي، غربي او شمالي مدنيتونو په تقاطع كي واقع سوې وه، چي اوس هم پښتو دغه منځنی حال ښيي.

دوهم : كه جناب ناروېژي دانشمند د شرقي ژبو ادبی تاريخونو ته نظر وكي او د هغو د ترتيب تكميل او د ليكلو سير وڅېړي نو به ورښكاره سي چي د نويو تحقيقاتو او د نويو آثارو د پيدا كېدو سلسله د ټولو دغو ژبو د ادب په تاريخونو كي جاري ده، او خصوصاً د دری ژبي د ادب تاريخ همدغه مراحل او د ژبپوهني پروبلمونه تېر كړي دي. بله خبره دا ده چي اوس موږ يوازي د تيرو اروپايي پوهانو پر ليكنو اكتفا نه سو كولای.

كله چي راروټي (۱۸۲۵ _ ۱۹۰۶ ع) دارمستتر (۱۸۴۹ _ ۱۸۹٤ ع) او دورن (۱۸۰۵ _ ۱۸۸۱ ع) سل كاله دمخه په پښتو ژبه كي تحقيقات پيل كړه نو هغه مهال د پښتو له څو محدودو ادبي او ديني كتابو، لكه د اخوند درويزه مخزن د اخوند قاسم فوايد الشريعه او د رحمان او خوشحال خان له دېوانونو پرته نورو آثارو چندان شهرت نه درلود، خو اوس خورا ډېر نوي معلومات زموږ لاس ته راغلي دي. څه چي محترم دانشمند د راورټي له ليكنو

اخیستي او دا يې کښلي چي شېخ ملي په ۸۲۱ هـ ق کي د يوسفزو تاريخ ليکلی دا هغه حدسيات دي چي په بومي او قومي روایاتو تکیه کوي ځکه چي دغه کتاب تاريخ نه و او اوس هم د يوسفزو خلك هغه د شېخ ملي د دوتر يا دفتر په نامه يادوي او په دغه کتاب کي د ځمکو، اوبو او ځايونو د وېش دودونه راغلي و، او د وېش دغه سيستم د انګليس د استعمار تر زمانې او د بند و بست تر مهاله (۱۸٦۹) پوري هم د سوات د غرنيو خلکو تر منځ موجود و ځرنګه چي له ډېر پخوا څخه د خانانو، فيوډالانو او د اقتدار د خاوندانو دا هڅه وه چي دغه اجتماعي سيستم له منځه يوسي او ځمکي تر خپل شخصي تملك لاندي راولي نو بنا پر دې بې د شېخ ملي دوتر هم له منځه ووړ او د خوشحال خان په عصر کي هم دغه دفتر په سوات کي پټ ساتل کېده، خوشحال خان ويلي دي :

په سوات کي دي ده ځېزه که خفي دي که جلي

مخزن د درويزه دی يا دفتر د شېـــــــــخ ملي

متاسفانه تر اوسه د دغه کتاب نسخه تر لاسه سوې نه ده، خو د سوات په غرنيو سيمو او د يوسفزو په نواحيو کي يې شهرت تر دې مهاله دوني ډېر دی چي د هغه وجود د تاريخ مبدا ټاکي، کله چي د سوات او مردان سپين ږيري د يوې پيښي په باب خبري کوي نو وايي چي دغه واقعه له "دوتره" څو کاله وړاندي يا وروسته واقع سوې ده.

لکه چي جناب مستشرق ويلي دي "پټه خزانه" بايد د ژبپوهني له پلوه او هم له تاريخي او علمي نظره تر کتني لاندي ونيول سي، دغه خبره سمه ده خو د چا له خوا؟ د هغه چا له خوا چي پښتو يې مورنۍ ژبه وي، او د نوي ژبپوهني په مباديو او د کلماتو په ريښه پېژندنه وپوهيږي، د افغانستان او پښتنو له تاريخ سره کاملاً آشنا وي او د منځنۍ آسيا د ژبو له تحولاتو او سبك پېژندني هم خبر وي. جناب مستشرق په خپله دې ليکنه کي فکر کړی دی چي د پښتو قديم اثر خو د راوړتي په قول د شېخ ملي (د يوسفزو تاريخ؟) دی او ځرنګه چي محمد هوتك تر نهمي پېړۍ دمخه پښتو آثار ضبط کړي دي نو بنا پر دې دا کتاب د شك وړ دی (!) حال دا

چي موږ د نورو ژبو د ادبياتو په تاريخونو کي د دغه ډول واقعاتو مثالونه

ډېر ښوولای سو چي خلکو د خپلو ژبو تاريخ ادبيات د موجودو معلوماتو

له مخي بشپړ کړي او کښلي دي. خو کله چي نوي مواد پيدا سوي

د نوو کشف سوو آثارو له موجوديت څخه يې په دې دليل انکار نه دی کړی چي د نوي پيدا سوي اثر يادونه په فلاني کتاب يا تذکره کي نه ده سوې؟

که چيري د شېخ ملي دوتر پيدا سي او په هغه کي د محمد هوتك د قديمو ماخذو يادونه نه وي نو دا د دې دليل نه سوای کېدای چي محمد هوتك د دغه کتاب جاعل دی.

وګورئ ! تر سل کاله دمخه زمانې پوري د دري ژبي قديمه تذکره د دولت شاه سمرقندي تذکره الشعراء وه ( د ۸۹۲ ق تاليف) او پخپله دولت شاه کاږي : "تاريخ و تذکره و حالات شعراء فارسی را هيچ افريده يی از فضلا ضبط نه نموده" ۰دولت شاه مقدمه) نو په دې ډول زموږ معلومات په دري ادب کي په هغه څه پوري تړلي و چي دولت شاه په خپله تذکره کي راوړي دي، ده په ځينو مواردو کي خپل اسناد ښوولي خو په ډېرو ځايونو کي سند هم نه لري، او يوازي د کتاب په پای کي يې د خپلو هم عصرو اوو تنو شاعرانو سوانح راوړي دي. په (۱۸٤٦ ع) کال مستر نتانيل بلند د لندن د آسيايي انجمن په مجله کي يوه مقاله وکښله او په هغې کي يې د دري يوه بله تذکره د عوفی (لباب الالباب) معرفي کړه. چي يوازي دوې خطي نسخې يې تر اوسه په دنيا کي معلومي دي، يوه د مستر بلند نسخه او بله د برلين د همايوني کتب خانې مخطوطه چي د مستر بلند نسخه بيا د فقيد مستشرق ايدورد براون او مرحوم قزويني له خوا طبع هم سوه او په دې وسيله زموږ معلومات په دري ادب کي زيات سول، او موږ د عوفي نوي معلومات په دې سبب چي دولت شاه يې يادونه نه ده کړې د ترديد وړ نه بولو، سره له دې چي د عوفي د

تذكرې دوې ډېري نوي خطي نسخې په لاس كي دي او د دري ژبي د اكثرو پخوانو شاعرانو دواوين هم له منځه تللي دي د عوفي او دولت شاه په قول مو‌ږ د اكثرو دري ژبو شعراوو ادبي پارچې چي د سبك شناسۍ له موازينو او تاريخي وقايعو سره مغايرت نه لري منو، او د شك اظهار مو پر هغو نه دی كړی. دا له انصافه ليري ده چي محترم مستشرق په پټه خزانه كي د ژورو تاريخي او ژبپوهني له پلوه د پروبلمونو (!) يادونه كوي، مگر دغه پروبلمونه نه شرح كوي او حتی اشاره هم نه ورته كوي، چي البته دغه كار پرته د عامه افكارو د خړولو بله څه علمي گټه نه لري.

د دري ادبياتو په قديمو ماخذو كي له لباب الالباب او څو نورو عربي كتابو پرته چي كوم بيت يا جمله يې نقل كړې وروسته تاريخ سيستان دی چي نه يې مؤلف معلوم دی او نه د كتاب نوم، او د ليكلو طرز يې هم د سبك شناسۍ د قوانينو له پلوه د پنځمي هجري پېړۍ څخه شروع كيري او تر (۷۲۵ ق) پوري رسي، نو بنا پر دې دغه كتاب د يوه لاس او يو آهنگ او يوه ليكوال نه دی او د ليكلو په يوه سبك هم اړه نه لري.

دغه كتاب هيڅ پېژندل سوی نه و، حتی د احياء الملوك مؤلف شاه حسين چي د صفاري شهزاده گانو له بقاياوو څخه دی او په (۱۰۲۸ ق ۱۶۱۹ م) يې خپل كتاب ليكه د دغه كتاب له وجود څخه د سيستان د تاريخ په نامه خبر نه و.

د دغه كتاب متن د يوې واحدې نايابي خطي نسخې له مخه د پخواني ايران په ورځپاڼه كي (له ٤٧٤ گڼي تر ٥٦٢ گڼي پوري ۱۲۹۹ _ ۱۳۰۲ ق) خپور سو او د همدغه متن له مخي يې نوري نسخې وكښلي سوې تر هغې چي د مرحوم ملك الشعراء بهار په زيار په ۱۳۱٤ ش كال په تهران كي چاپ سو.

دغه كتاب د دري ادب په تاريخ كي ډېر نوي مواد اضافه كړل چي له هغو څخه د سيستان ذكر كوي د آتشكدې سرود، د محمد بن وصيف سگزي مدحيه او د محمد بن مخلد اشعار د قدامت زاړه سبك او د تاريخي وقايعو سره د رابطې او برابروالي په سبب د منلو وړ دي كه څه هم عوفي د دولتشاه ابداً او اصلاً د هغو يادونه ده كړې او د تاريخ سيستان نسخه هم واحده ده مگر هيڅا ونه ويل چي دغه اشعار فلاني شخص يا شاعر يا ليكوال يا د تاريخ سيستان مؤرخ د فلاني غرض لپاره جعل كړل او يا د ژبپوهني او تاريخ له پلوه پروبلم لري.

كه نه وي په لباب الالباب د دولت شاه په تذكره او همدغه تاريخ سيستان او نورو تذكرو او قديمو ماخذو كي په سلگونو ژور حل نه منونكي پربلمونه پيدا كېدای سي چي د ژبپوهني سبك پېژندني او تاريخي وقايعو د نه ارتباط له پلوه د منلو وړ نه دي، د مثال په توگه دغه معروفه قصيده چي عباس مروزي ته منسوب ده او د مامون خليفه (حدود ۲۱۰ هـ ق) په مدحيه كي ويل سوې ده وگورئ !

ای رسانيده بدولت فرق خود تا فرقدين
گسترانيده بجود و فضل در عالـم بدين
(لباب ۲۰)

د دې قصيدې پر تندي باندي خو د جعل او نويتوب كرښي ښكاري. په همدې قديم كتاب كي چي د دري ژبي له قديمو او معتبرو تذكرو څخه گڼل سوی يو شعر سلطان محمود ته منسوب دی چي د گلستان نومي مينځي په مرثيه كي ويل سوی، د دې شعر ژبه ابداً د غزنويانو د عصر ژبي ته نه پاتيري :

تا تو ای ماه زيرخـــاك شدی
خاك را بر سپهر فضـــــل آمد
دل جزع كرد، گفتم ايدل صبر
اين قضا از خدای عـــدل آمد
آدم از خاك بود و خـــاكی شد
هر كه زوزاد باز اصـــــــل آمد

(لباب ص ۲۵)

دا چي سلطان محمود غوندي ستر سلطان د خپلي مينځي مرثيه په داسي ژبه او الفاظو وايي په خپله د تامل وړ خبره ده، حال دا چي همدغي معتبري تذکرې یو بل شعر هم سلطان محمود ته منسوب کړی دی.

زبیم تیغ جهانگیر قلعه کشای

(لباب ص ۲٦)

چي همدغه شعر د ایران د ملي شورا د کتب خانې په یوه خطي سفینه او هم په تاریخ گزیده (ص ٤٥٧) کي د محمد بن ملکشاه سلجوقي په نامه ثبت دی.

څرنګه چي موږ د عوفي زمانې ته نژدې خطي نسخې په لاس کي نه لرو او دغه دوې نسخې هم وروستی دي، او د کتابت تاریخ یې هم نه دی معلوم او کله چي د بزم آرا مولف علي بن محمد حسیني په زرم هجري کال کي د لباب الالباب ټول مواد پرته د ماخذ له ذکره او بې د مولف د نامه له یادوني په خپل کتاب کي واخیستل نو اوس دلته پروبلم منځ ته نه راځي چي د دغه کتاب خلاق څوک دی؟

سره له دې چي د لباب الالباب په ځینو اشعارو انتقاد هم واردوي، او هم هغه آثار او اشعار چي د لندن او مانچستر په متاخرو نسخو کي لیدل کیږي د ۱۰۰۰ هـ ق په حدودو کي یې په بزم آرا کي هم وینو نو آیا دلته د شکوکو او پروبلمونو ځای نه دی.

د دغو ټولو شکوکو او شك لرونکو خبرو سره د لباب الالباب، دولتشاه آذر او هدایت مقام په خپل ځای دی او دغه کتابونه د تاریخ ادبیات له مهمو ماخذو څخه ګڼل کیږي. د یوه قول ضعف او یا د کتاب پر یوه موضوع باندي د شك موجودیت د ټول کتاب اعتبار له منځه نه وړي، حال دا چي موږ د ژبي اصل یو د خپلي ژبي د تحول تاریخ مو لوستی دی او پټه خزانه مو هم کلمه په کلمه لوستې او تحلیل کړې ده، له هیڅ ډول داسي پروبلم سره چي هغه دي له ژبپوهني او تاریخ سره مغایرت ولري مخامخ سوي نه یو، او که دغسي یو پروبلم په دې کتاب کي موجود وای، نو هرو مرو به مو په تعلیقاتو او حواشیو کي هغې موضوع ته اشاره کړې وای نو د ډېر افسوس ځای دی چي محترم مستشرق په کتاب کي هیڅ ژبنۍ او تاریخي معضله په مفصل ډول نه ده شرح کړې او تش یې د یوه مبهم او مجمل شك په اظهار سره عمومي اذهان مشکوك کړي دي او دا د یوه محقق عالم کار نه دی.

پښتو ژبي پخوا تذکره نه درلوده او که تالیف سوې هم وي، د خاتوني د مناقب الشعراء په څېر (چي حاجي خلیفه او دولتشاه یې یادونه کړې) له منځه تللې وي. په ۱۳۲۰ ش کال ما له پښتو ټولني د پښتانه شعراء لومړی ټوك خپور کړ، او په دې کتاب کي مي هغه مطالب ځای کړل چي تر هغه وخته پوري مي سره راټول کړي وُ، مثلاً ما هغه وخت د تذکره الاولیاء د ورك کتاب شپږ پاڼي د هلمند د رود پر غاړو کي له یوه کلي پیدا کړي وې هغه کتاب مي په عکسي شکل او مواد مي یې په اقتباسي بڼه په هغه کتاب کي خپاره کړل نو هغه څه چګي راوړتي د پښتو د ادب د تاریخ په باب ویلي وو او د دغي ژبي د ادب تاریخي یې تر اوولسمي پېړۍ پوري فرض کړی وُ دې کتاب هغه تاریخ ډېر وړاندي بوت، او تر دوولسمي مېلادي پېړۍ پوري یې ورساوه، خو کله چي ځیني نور خطي آثار لکه د سلطان سخي سرود د (۵۷۷ هـ ق مړ) کرامات چي د پنجاب د سلطانیه فرقې مؤسس وُ، پټه خزانه، او د نعمت الله هروي مخزن افغاني (۱۰۱۸ هـ ق) او نور تر لاسه سول او پښتانه شعراء هم د تجدید نظر وړ سو، نو ما ټول دغه نوي مواد د تاریخ ادبیات په دوهم ټوك کي سره راوړل چي بیا په ۱۳٤۱ ش کال د پښتو ټولني له خوا خپور سو او که په آینده کي نور آثار پیدا سي نو هغه به هم پر زیاتیږي، خو باید چي د محترم مستشرق او د ده په ډول د نورو نباغلو د شك وړ نه وي ځکه د ادبیاتو تاریخونه تل د نویو موادو په پیدا کېدو سره د تکمیل په حال کي وي. اوس موږ ډېر نوي مواد په دري کي لرو، چي د براون تر تاریخ ادبیات وروسته پیدا سوي او دغه نوي مواد پر هغه کتاب علاوه سوي او ځیني یې هم له منځه تللي دي، لکه د محمد بن عمر رادویاني د ترجمان البلاغه

نسبت فرخي ته او يا هم د يوسف زلېخا د نظم نسبت فردوسي ته.

دا عجبه خبره ده چي ژبپوه استاد د راروتي تر قول سل کاله وروسته د شيخ ملي ورک دوتر (يا په غلط تعبير د يوسفزو تاريخ) د پښتو لومړی اثر ګڼي خو دغه اثر تر اوسه نه موږ ليدلی او نه يې جناب مستشرق څرک لګولی دی نو که دی د يوه ورک کتاب په استناد د پټي خزانې معلوم مواد د شك وړ بولي، د ډېر تعجب ځای دی او د يوه ورك او مطلق مجهول کتاب په اثر يو موجود او مشهود کتاب تضعيف کول بيا هم د ډېري اريانتيا خبره ده.

په پټه خزانه کي داسي کلمات استعمال سوي چي اوس په مستعمله پښتو کي ژوندي نه دي، مګر د دې ژبي هر ويونکی په پوهيږي او د تاريخ ادبيات او ريښه پيژندني په مرسته يې پيژندلای سوای چي دا پښتو کلمې دي، او نظاير يې په قديمو اوستايي او ويدي آريايي کلمو کي راغلي دي.

افسوس دی چي محترم شکاکان د پروبلم نوم اخلي، مګر په دې برخه کي په تفصيل سره نه ږغيږي چي سړی وپوهيږي چي دغه تاريخي او ژبني پروبلمونه کم دي؟ څوني علمي ارزښت لري؟ چي د يوه معتبر ارزښتمن او نادر کتاب د مشکوکولو سبب سي.

افغانستان

د لرغونپوه لويس دوپري تاليف او د ويلبر د شکوکو نقل

په دې نامه يو کتاب په ٧٦٠ مخونو کي د امريکا له پرنستون نيوجرسي څخه په ١٩٧٣ ع کال خپور سوی دی. چي لوستل يې د افغانستان د پيژندني له پاره (د احتياط په قيد) مفيد دي.

ښاغلی مؤلف د قبل التاريخ لرغون پوهني په باب کار کړی دی ډېر آثار يې خپاره کړي دي چي د ده دغه کارونه د افغانستان په قديم تاريخ کي ګټه ور او د قدر وړ دي.

که څه هم ددغه کتاب احصائيې کورټ د اعتبار او منني وړ نه دي، سربېره پر دې ځيني نوري تېروتني هم لري. لکه په ١٨٥ مخ کي کورنۍ پښتو ګڼله سوې، او مقابل يې ورته په دري کي خانواده ښوولی دی، او بيا يې يوه ليکه وروسته همدغه کورنۍ دري ګڼلې او مقابل يې ورته په پښتو کي کهول ښوولی دی. حال دا چي کورنۍ او کهول دواړه قديمي پښتو کلمې دي، او مقابل يې په دري دودمان، خاندان او خانواده دي.

په ٧٥ مخ کي دپار ديار کلمه چي معرب يې ماراء النهر ده او ډېره زړه آريايي (پار) ريښه لري ــ پای دريا Pay-i-Darya ضبط کړې ده، حال دا چي د افغانستان خلك تر اوسه "پاردريا" وايي.

په ٨٠ مخ کي يې ميرزا عبدالقادر بيدل په ١٦٤٤ ع کال د پټني زوکړی او په ١٧٢٠ ع کال دهلي مړ د دهلي د ګورګانيانو د دربار د پارسي استاد ښوولی دی، حال دا چي په ٩٢ مخ کې بيا د همدغه ميرزا عبدالقادر بيدل د معاصرو شعراوو، بيتاب، قاري او مستغني په صف کي راوړی او اثر يې پر ځوانو شاعرانو ډېر ژور ښيي. په ٨٢ مخ کي سردار غلام محمد خان طرزی سياسي نفي سوی شاعر سرلوحه ليکونکی ښيي، او د شکسته نويسۍ ماهر يې بولي خو موږ دا وايو چي د شکسته ليکني طرز، چي په خپله د خوش نويسۍ يوه نوعه ده له نهمي هجري پېړۍ را په دې خوا باب سوی خو دی يې په Broken- linepoetry ترجمه کوي، چي غلط محض دی او له شاعرۍ Poetry سره هيڅ تعلق او ربط نه لري. دی وايي هغه وخت چي په افغانستان کي فاميلي نوم و خو ده خپل ځان ته "طرزی" Stylist وايه، چي دغه مساله هم ذاتاً غلطه او د مسالې په نېوهېدلو تعلق لري.

طرزی د غلام محمد خان شعري تخلص و، او د زروکالو را پدې خوا په افغانستان کي د شعري تخلص دود موجود و، لکه : فرخي، دقيقي، جامي او حتی د طرزي تره مشرقي او عندليب د هغه زوی چي دا ټول کورني نومونه نه وو بايد د کورنۍ نوم او د شعري تخلص فرق وسي، او دا چي تر غلام محمد خان وروسته د هغه

نومیالی زوی د خپل پلار تخلص کورنی نوم کړ، او اوس یوه کورنۍ په دې نامه سته، دا البته د نوي عصر د غوښتنو او د غربیانو په تقلید د کورني نوم رواج دی.

د کتاب په تاریخي موادو کې هم ډېري ناوړي غلطۍ لیدل کیږي مثلاً په ١٦ څپرکي (ص ٣١٢) کي په افغانستان کي د اسلام د خپرېدو په باب او همدارنګه د عربو لومړنۍ لښکرکشي په ٨٠ _ ٨١ ق کال د کندهار له لاري ښیي حال دا چي د اسلامي عساکرو پرمختګ د سیستان او هلمند او بُست او رخج له لیاري و او د کابل فتح د ابن سمره په وسیله په ٣٦ ق کي سوې ده. (تاریخ سیستان ص ٨٥، فتوح البلدان ص ٤٨٨) په دغه ډول نوري غلطۍ په دې کتاب کي ډېري زیاتي دي په هر صورت زموږ د کتاب له نورو تېروتنو او مطالبو سره څه کار نسته په (٧٥١ مخ) کي د افغانستان د ادبي سوابقو د تلخیص په برخه کي د دري ادب د قدیمو شاعرانو محمود وراق، حنظله بادغیسي او نورو شعرونه پرته له کومي تبصرې اخلي، هغه ترجمه او معرفي کوي مګر د پښتو په باب کاږي : (د پښتو ادبیاتو ته حتی په افغانستان کي هم توجه نه ده سوې، نجیب الله د افغانستان محقق او سیاستمدار په خپل ګټور کتاب "ادبیات اسلامي" ١٩٣٦ ع کي پښتو ادبیات نه دي لیکلي.

د پټې خزانې پر اصالت چي په ١٧٤٩ ع (صحیح ١٧٢٩ ع) په کندهار کي نشر سوې ده (صحیح ختم سوې ده) او د ٧ _ ٨ _ ٩ پېړیو پښتو اشعار یې راوړي په دې تازه ګیو کي د ویلبر له خوا شك ښکاره سوی دی (زبان و اجتماع مساله ایران د ٢٢ _ ٢٣ مخونو ٢ نوبت ١٩٦٧ ع کال) ځکه چي د پښتو آثار تر ١٧ قرن دمخه تر لاسه سوي نه دي، او تر ٢٠ قرن پوري په بطي او نامنظم شکل را رسېدلي دي) (د افغانستان ص ٨٣).

د ښاغلي دوپري دغه مجمله تبصره هم یوه اشاره ده چي هیڅ دلیل او تفصیل نه لري او پرته د اذهانو له تشویبه بله معنی نه ځني اخیستله کیږي ده د ویلبر پر شك چي نه یې یوه کلمه پښتو زده وه او نه یې د دې ژبي تاریخ ادبیات لوستي وه او دغه تبصره هم د ده په مطلق جهل دلالت کوي تکیه کړې ده چي دا کار د محققانو او تاریخ پوهانو نه دی.

ما ویلبر نه دی لیدلی او نه یې پېژنم خو مقالې مي یې لیدلي دي، علمي نه دي بلکي ډېري سطحي او سیاسي رنګ لري، او پر هغو تبصره د یوې علمي لیکني کار نه دی.

خو دا چي مرحوم نجیب الله په خپل کتاب کي د پښتو ژبي او ادبیاتو یادونه نه ده کړې په دې دلالت نه کوي چي ګوندي ژبه قدیم تاریخ او ادب نه لري ځکه امکان لري چي لیکنه یې ده ته سپارل سوې وه په هغه کي به د پښتو ادب پر تاریخ بحث نه کېدی.

ښه مي په یاد دي چي دغه محترم په هغو مجالسو کي هم شرکت درلودی چي د دغه کتاب د حواشیو، تعلیقاتو متل او د اشعارو د ترجمې د لوستلو لپاره د کتاب تر چاپ دمخه جوړېدل ده په هغه وخت کي د کتاب پر متن او اشعارو څه اعتراض نه درلودی او کله به چي یې د پښتو د قدیمو قصایدو ترجمه واروېده، نو به یې له سترګو اوښکي توی سوې، خو دا چي ده په خپل کتاب کي د پښتو ادبیاتو په راوړو کي سکوت کړی شاید دغه موضوع د هغي مؤسسې په تعلیمي مقرراتو اړه ولري او که چیري د افغانستان په ځینو کتابو کي د پښتو ادبیاتو یادونه نه وي سوې نو دا خبره د پټې خزانې د امتیاز د سقوط موضوع نه سوای کېدای.

پر شیخ سعدی باندي اعتراض لري چي ولي یې دغه معروف بیت :

اګر شه روز را ګوید شب است این
بباید ګفت اینك ماه و پــــــــروین

په خپل اخلاقي کتاب کي راوړي او درواغ ویل یې جایز کړي دي. که دغه اعتراض وارد هم وي د یوه تن اعتراض دی، د ګلستان ادبي ارزښت نه سوای لړولای بله دا چي مرحوم نجیب الله په پښتو ادبیاتو کي وارد نه ؤ

نو څه به ورسیږي دې ته چي ده دي د پښتو وسيعو ادبياتو پر تحول خبري کړي وای.

د دکتور علي اکبر جعفري شك آميزي ليکني

د سخن مجلې د ۱۳٤٦ کال پرله پسې ګڼو کي د پښتو په باب د دغه پوه په قلم ځيني مقالې خپرې سوي چي د ۱۷ دورې په څلورمه ګڼه کي په پښتو ادبياتو هم مختصر بحث لري، زما په مقالو او نوشتو او کتابو حواله ورکوي، د سلېمان ماکو تذکره الاولياء او پټه خزانه د پښتو په اولنيو آثارو کي شمېري.

ښاغلی جعفري لومړی پر دې اعتراف کوي چي خپل ځان د دې وړ نه بولي چي په دې باب قضاوت وکړي (سخن ص ۳۳۵) مګر بيا هم په اسلامي دايره المعارف کي د پروفيسور مارګنسترن له نوشتو متاثر سوی، او د هغه مشکوکي خبري رانقلوي، او بيا هم د ډېر افسوس ځای دی چي په دې خصوص کي هيڅ تفصيل نه ورکوي او پرته له دې چي مثالونه ورکي او نظاير وښيي، ليکي : (از ديدن بعضی واژه های هندی که تلفظ آنها را نمی توان از چند قرن اخير کهن تر دانست و بيګمان پښتو آنها را پس ازکشورکشاييهای پښتو زبانان در شبه قاره هند در خود پذيرفته است) په دې برخه کی دی اريان سوی او فکر کوي چي دا موضوع لږ تر لږه درې علته لري :

(۱) در داستانهای نثر فارسی ديده ميشود که نويسنده در جاهايي که خودش مناسب ميداند شعرهايی از خود يا از شاعران ديګر در دهار قهرمانان مانند رستم، افراسياب، دارا، سکندر، دختر خاقان چين، امير حمزه و ديګران ميګذارد، ممکن است که داستان ګويان پښتون هم در باره امير کروړ و ديګران همين کار را می کردند و محمدهوتك بامنابعی که وی از آن سود جسته آنرا راست انګاشته اند ... تا چه اندازه محمد هوتك درستی و نادرستی ګفته های مردم را بر رسی و وارسی کرده ما نميدانيم.

(۲)اين شعرها از زمان کهن تا روزګار محمد هوتك به علت دهان به دهان ګشتن ديګر ګونيها ديده (تازه نما) ګرديدند.

(۳)نسخه برداران در آن مطابق زمان خود دګرګونيهايی پديد آوردند به هر حال باوجود تازګيهايی که در آن ديده ميشود ازين شعرها بوی کهنی می آيد (سخن ص ۳۳۷)

په دې لوړ مشکوك او مجمل اظهار کي بيا هم د هندي لغاتو يا نوو لغاتو او يا هم تازه نما کوم مثال نسته چي هغه د ښاغلي دکتور د شك وړ ګرځېدلی وي، او بيا دي د نويوالي تر څنګه د زوړوالي بوی هم ځني ولاړ سي.

د هندي کلماتو په باب بايد وويل سي چي پښتو له زړو آريايي ژبو ويدي او سنسکريت سره مشترکات لري چي ډېري قديمي ويدي او سنسکريت کلمې اوس هم په پښتو ژبه کي ژوندۍ او رواج دي او د پښتو په منځنيو او زړو ادبياتو کي هم راغلي دي.

او دا وضع بايد په دې ډول وي ځکه آريايي خلك له همدې خاوري (افغانستان) څخه شمالي هندوستان ته تللي او ډېر ژبني ماثر يې له ځان سره وړي او بيا په تګ راتګ او تجارتي مبادلاتو او اجتماعي تاثيراتو کي ډېر هندي کلمات پښتو ته راغلي او له دې ځايه هند ته تللي دي چي ما دغه خبري د پښتو ادب په تاريخ کي په تفصيل سره راوړي دي (وګورئ د پښتو ادبياتو تاريخ ج ۱ طبع اول ۱۳۲٥ طبع دوهم ۱۳٥٤) خو ما په پښتو قديمو اشعارو او يا هم دګورګانيانو له دورې (٦۰۰ حدود) دمخه آثارو کي داسي کلمې نه دي پيدا کړي چي د ښاغلي جعفري په قول يې تلفظ له څو وروستيو پېړيو پخوانی ونه بلل سي. خو څنګه چي ده کوم مثال نه دی راوړی او ما خپله په زاړه ادب کي د داسي کوم شي څرك نه دی ايستلی نو له دې زيات په دې باب څه نه سم ويلای.

کاشکي ښاغلي نقاد (!) د خپلي مدعا د اثبات لپاره مثالونه

ورکړي وای ښاغلي دکتور په خپلو دريو راوړو عللو کي په لومړي

علت کي پټه خزانه (د پښتو شاعرانو تذکره) د پارسي د داستاني

نثرونو د کتابو په جمله کي راوړي چي دا هم د جنس او نظیر له مخي
سم قیاس نه دی، ځکه چي ده تذکره لیکنه له داستان لیکني سره
خلط کړې ده، حال دا چي پټه خزانه د دولتشاه د تذکرې لباب الالباب، مجمع الفصحا، د آذر د آتشکدې او نورو په څېر یوه تذکره ده چي
موږ د دوی اروېدني او روایات د دوی په کتابو کي وینو، او په ډېرو
مواردو کي دوی د ورکو کتابونو څخه نقل قول کوي او کله هم خپله منشا او ماخذ نه ښیي چي په دې اساس د روایاتو د سموالي او ناسموالي
احتمال د ټولو شرقي ژبو پر تذکرو واردیږي، سره له دې چي محمد هوتك د امیر کروړ د شعر لپاره ماخذ هم ښیي (لرغوني پښتانه د شیخ کټه
متې زي تالیف) چي دغه مولف د تاریخ سوري څخه د غور په بالشتان
کي مواد اخیستي وو. (حدود ۷۵۰ق) نو له دې امله نه سوای کولای
چي د پټې خزانې محتویات او روایات د پارسي پر داستاني کتابو قیاس کړو.

دوهم دا چي جناب جعفري په کم دلیل ځیني اشعار "تازه نما" بولي او بیا د (بوی کهنی) استشمام هم ځني کوي دا خبره معلومه او مشروعه نه ده. ظاهراً د زوړوالي او نویوالي تر منځ تضاد موجود دی، خو ښاغلی لیکوال دواړه یو ځای راوړی، آیا منطقاً دغه تضاد جایز دی، او د لیکونکي خپل منطق مذبذب نه دی؟

درېیم : د خطي کتابونو د لیکونکو تصرفات یقیني دي موږ د شرقي ژبو په کتابو کي دوه سره ورته نسخې ګرد سره نه سو پیدا کولای که چیري موږ د فردوسي د شاهنامې په سلګونو نسخې چي د مغولو له تاړاکه وروسته کښل سوي سره مقابله کو په ډېري سختۍ به دوې نسخې سره ورته پیدا کو. له بده مرغه د پټې خزانې او یا د هغې د قدیمو ماخذو کومه نسخه اوس په لاس کي نسته چي د هغو له مخي دا معلومه سي چي په پټه خزانه کي ترکومه ځایه د کاتبانو تصرف راغلی دی. د سبك پېژندني او مادي او معنوي خصوصیاتو له پلوه د مغولو له دورې مخکي قدماوو ته منسوبو پښتو اشعارو خپل لرغونتوب ساتلی او ډېري داسي متروکي کلمې پکښې سته چي د ریښه پېژندني له نظره اصالت لري خو اوس په ژبه کي نه استعمالیږي.

هندي کلمې چي ښاغلي جعفري یې یادونه کړې دا د آریایي ژبو هغه زاړه مشترکات دي چي پښتو په هغو کي د شرقي او غربي ژبو تر منځ د وصل د کړۍ حیثیت لري او د دغو کلمو استعمال هم په پښتو کي قدیم دی.

د مثال لپاره د ښکارندوی غوري په مدحیه قصیده (ص ۷۵ پټه خزانه) کي د "بودتون" کلمه راغلې. چي ظاهراً یې ریښه له هندي "بود" کلمې سره یو شان ده مګر پښتو ته یې راتلل تر اسلامي دورې په مخکي وختو پوري اړه لري او دا باید د سلطان محمود د فتوحاتو اثر ونه بولو.

البیروني د الهند په کتاب (۱/۱۶۳) کي کاږي چي هیولا بالقوه درې خاصیته لري : عقل، دین او جهل چي لومړني ته یې "بدھ" وایي، او د نفس د خوښۍ او راحت علت دی او دغي کلمې بیا وروسته په نورو آریایي ژبو کي هم ریښه وځغلوله لکه موبد (حافظ الدین) سپه جمع بد (سپه سالار) او نور ...

د البیروني په قول د مشهور داعي "بودا" نوم هم له "بد" څخه وتلی دی چي د ماني په کتاب "شاپورګان" کي هم په دغه ډول راغلی دی، او په عربي کي هم بد د "بت" په معنی راغلی دی. ابوالعلا معری د دنیا په غنده کي ویلي دي :

والقلب من اهوائه عابد
ما یعبد اکـــافر بده [1]

له دې تحلیل او د کلمې د تاریخي سیر له مخي ویلای سوای چي پښتو بودتون (بتخانه) په اصل کي ظرفي بودتون ؤ، چي استعمال یې د غوریانو په عصر اړه لري (۵ _ ۶ قرن) او دا باید یو نوی آمیزش ونه ګڼو، او په دې ډول په سلګونو هندي، ترکي، پهلوي او اوستایي کلمې د پښتو په قدیمو ادبیاتو کي وینو چي اختلاط یې د اسلام له عصره لرغونی دی او هغه باید د ښاغلي په قول (تازه نما) ونه شمېرو بلکي هماغه زوړ رنګ او بوی لري. په هر صورت تر مغولو دمخه پښتو آثارو علمي تحلیل باید د ریښه پېژندني د موازینو او په ژبه او ادب کي د تحولاتو د سیر او همدارنګه له تاریخي پیښو سره د تطابق له مخي وسي، او هغه څوك باید دې کار ته لاس واچوي چي په دغو ټولو مواردو کي پوره لاس او معلومات ولري، او د خپلي ادعا د اثبات لپاره مثالونه ورکولای سي، او خپل دلایل په اجمال او اشاره رانه وړي چي د اذهانو د تشویب سبب نه سي.

داخلي شکاکان :

یوه بله مساله چي دلې باید توضیح او تصریح سي ځیني هغه خبري دي چي په افغانستان کي له خلکو اروېدل سوي او احیاناً یې لیکلي هم دي. دغه خلك په دې خصوص کي ځیني شخصي رایي او خبري لري او څه چي وایي پر حقایقو متکي نه دي، زه دلته د دغه کتاب د مطلق مدافع په توګه خبري نه کوم، بلکي غواړم خپلي اروېدني د علم له پلوه تحلیل کړم که وروسته تر دې هم څوك علمي خبري وکړي پرته له کوم ټینګار او تعصبه باید واروېدل سي، او که چیري دغه علمي خبري د تامل وړ وي نو باید تر تحقیق او څېړني لاندي ونیول سي.

یوه لیکونکي یوه پوښتنه داسي طرح کړې وه، چي د پښتو ژبي لومړنی شعر باید معتبر تاریخي سند ولري، او محققین نه سي کولای چي بې له کومه معتبره سنده اظهار نظر او قطعي حکم وکړي او داسي نوري خبري.

دلته باید وویل چي د پټي خزانې او نورو ژبو د تذکرو په مطالعه کي په قطعي صورت د "اولین شعر" یا قدیمترین نظم او نثر د اصطلاحاتو کارول درست کار نه دی، ځکه په مجرد او مطلق ډول پر یوه شعر د اولین شعر حکم کول سم کار نه دی او شعر په اني صورت او په یوه ژبه کي د تکامل د مراحلو له تېرولو پرته و هلتانه نازلیږي، هغه څه چي تذکره لیکونکو د دري د قدیم شعر په باب کښلي او قدیم دري شعر یې بهرام ګور یا محمد بن وصیف سیستاني یا عباس مروزي یا ابوحفص بن احوص سغدي ته منسوب کړی هم سمه خبره نه ده، او باید وویل سي چي لومړنی مکشوف شعر یا قدیمترین منظوم او منثور اثر چي په پلانۍ ژبه کي تر اوسه پېژندل سوی دی او له همدې امله موږ د پټي خزانې په استناد د امیر کروړ شعر د پښتو لومړنی معلوم او مکشوف شعر ګڼلی او لکه چي مي په تعلیقاتو کي هم کښلي دي د دې ژبي نظم له دغه شعره پخوا د خپل پخوالي او ادبي نضج مراتب تېر کړي دي، تر څو چي په دوهم هجري قرن کي د متانت او صلابت دغي درجې ته رسېدلی دی او زما دغه نظر د هغو علماوو له نظره سره چي د دري قدیمو مکشوفو آثارو په باب یې ښکاره کړي دي یو شان دی.

دوهم دا چي په تذکرو کي د قدیمو اشعارو یادونه یوازي د یقین مؤید نه سي کېدای، ځکه چي په تذکرو کي ځیني داسي خرافي او غیر علمي موضوعونه هم راغلي دي چي هغه باید د نوو علمي معیارونو په وسیله په انتقادي نظر رد سي. د نوي تحقیق طرز خو پر تجربه او مشاهده ولاړ دی او اوس په دې خصوص کي سبك پېژندنه، ریښه پېژندنه او حتی د شعر او فکر پوهنه معیار ګڼلی سي او په همدې سبب سبك پېژندونکو عملاوو په لباب الالباب کي د محمد عوفي روایت د عباس مروزي د قصیدې په باب رد کړی دی خو په همدې کتاب کي ډېر د منلو وړ مواد هم سته.

د تحقیق په ټولو مواردو کي (جدید وي که قدیم) انتقادي نظر او د ژبپوهني او سبك پېژندني له علمي معاییرو سره د هغه مطابقت شرط دی، او د ښو له بدو او د اصیل له نا اصیله بېلول، د سبك پوهانو کار دی چي د خپلي ژبي پیدا سوي آثار د قدامت په لحاظ درجه بندي کي نو بنا پر دې موږ د امیر کروړ شعر د پښتو لومړنی لاس ته راغلی شعر بولو، او کېدای سي وروستۍ پلټني نور پخواني آثار تر لاسه کړي.

درېیم دا چي لیکونکي کښلي دي : "په دوولسمه پېړۍ کي د محمد هوتك اظهار نظر د امیر کروړ د شعر په باب قانع کوونکی نه دی او کله چي د نن ورځي محقق له دغه ډول مسالې سره مخامخ سي باید خپل ځان پر تسکین نه کي او د قناعت وړ یې واقع نه سي." ښاغلي لیکونکي په خپل دې حدس کي هم ګرم دی، ځکه کله چي د ننني محقق خبري کیږي نو باید پوښتنه وسي چي کوم محقق؟ که مقصد نقاد لیکوالان او د تاریخ ادبیات محققان وي خو نو ددغه علماوو سره د دغه کتاب په وړاندي د دغسي محض انکار او عدم تسکین رویه نسته.

په لباب الالباب، د دولت شاه په تذکره او همدارنګه د دري او عربي او نورو شرقي ژبو په ډېرو تذکرو کي په زرګونو داسي شعرونه موجود دي چي نوو محققانو د تذکرو د هماغه واحد روایت له مخه منلي دي مثلاً : د براون، همایي، صفا، سعید نفیسي او دکتور شفق او نورو کتابونه له دغه ډول روایاتو ډك دي که چیري دغه خلك علماء او محققان ونه ګڼو نو د دغي کلمې مصداق به د عنقا په شېر وي.

نن د حنظله بادغیسي دېوان نسته، خو د نظامي سمرقندي د چهار مقالې (ص ٢٦) په قول دا دېوان له احمد بن عبدالله خجستاني (مقتول ٢٦٢ هـ) سره موجود ؤ او هغه یې وایه او د دري له دې قدیم شاعر څخه فقط یوه دوې قطعې په لباب الالباب او چهار مقاله کي پاتي دي که څه هم د سبك پېژندني له پلوه هغه اوس هم د شبهې وړ دي. عوفي په خپله وایي چي د ابوالفتح عربي او دري دېوان مي لیدلی دی (ص ٦٢ لباب) خو اوس پرته له څو دري بیتونو د بست د دغه ذواللسانین شاعر نور دري شعرونه په لاس کي نسته او عربي مکمل دېوان یې ابراهیم بن علي طرابلسي په ١٢٩٤ هـ ق کال چاپ کړی و اوس دکتر امیر محمود انوار په تهران کي د څو خطي نسخو له مخه په ١٣٥٠ بیتونو کي تکمیل کړی دی (مقالات و بررسیها، ج ١٣ ـ ١٦ ص ٣٤٥، طبع تهران) اوس چي د قدیمو شعراوو دېوانونه ورك دي نو که موږ وروستۍ لیکني کان لم یکن وګڼو بیا به د نن ورځي د محقق لپاره د تحقیق او څېړني هیڅ موضوع پاته نه وي او په دې ډول باید د تاریخ ادبیات نیم موضوعونه له منځه یوسو، ځکه هغه مواد چي په لباب الالباب او نورو تذکرو کي راغلي داسي مواد دي چي په خپله تذکره لیکونکي راټول کړي نو که چیري د دوی پر نقل اعتماد نه وي نو د ننني محقق لپاره د تحقیق په برخه کي هیڅ نه پاتیږي ځکه د اکثرو قدیمو کتابو (د شاهنامې په شمول) اصل له منځه تللی

او د هغو نقل په لاس کي دی خو که د ځینو په نظر د یوه لیکوال

لکه محمد هوتك اظهار نظر د شك وړ وی نو د نورو لپاره بیا د عوفي او دولتشاه او آذر او هدایت کښني د اعتبار وړ نه دي که دولت شاه او

عوفي تر محمد هوتك قدیم دي آذر خو یې معاصر او هغه بل تر ده وروستی دی.

بیا لیکي : "د محمد هوتك په شېر د یوه لیکوال اظهار نظر ..." نه پوهېږم چي ولي یې د محمد هوتك اظهار نظر د قناعت وړ نه دی بللی؟ حال دا چي د عوفي، دولتشاه، آذر او هدایت کښني هم د محققانو تر څېړني او بحث لاندي دي هغه مرتبه چي عوفي او هدایت د پارسي ژبي او ادب په لیکنه کي لري، محمد هوتك تر هغوی زیات په پښتو ادب کي وارد دی د محمد هوتك تېروتني د پټې خزانې په کښنه کي د دولت شاه او هدایت په پرتله ډېري لږ دي هغه احتوا چي عوفي، دولت شاه او نظامي سمرقندي پر دري ادب درلوده محمدهوتك په هماغه اندازه په پښتو ادب کي خبیر او بصیر دی. محمد هوتك په کندهار کي د هوتکیانو د دربار منشي او د ثقه خبري خاوند دی او د اقوالو په نقل کي د عربو او عجمو د مؤرخینو په شېر خپل سند، که لیکلی وی او یا یې اروېدلی یادوي چي د دغو اقوالو ډېر کتابونه او منابع لا تر اوسه هم سته، لکه د نعمت الله هروي مخزن افغاني او د خوشحال خان آثار او د نورمحمد غلجي نافع المسلمین.

هغه کتابونه چي محمد هوتك لیدلي یا یې بالوسیله نقل ځني کړی دی او اوس له منځه تللي نه سو کولای چي هغه مجهول وګڼو او نه د محمد هوتك په منقولاتو کي د سبك شناسی او تاریخ له پلوه د جعل آثار ښکاري.

او دا د هغو نقلونو سره شباهت لري چي دولت شاه د ابو طاهر خاتوني له مناقبت الشعراء څخه کړي دي (ص ۲٦، ٤٧) سره له دې چي د مناقبت الشعراء کتاب ورك دی مګر موږ د دولت شاه نقل قول تر هغه وخت منو چي د هغه د نقض مقابل قول پيدا سي.

په همدې ډول په ډېرو معتبرو تاريخونو لکه تاريخ بيهقي او طبقات ناصري کي ځيني داسي اقوال ليدل کيږي چي له ورکو کتابو څخه يې نقل کړی دی، او د هغو کتاب اصل په لاس کي نسته لکه د بونصر مشکان مقامات چي مؤلف يې د غزنويانو د دربار منشي ؤ، او زجاجي وايي چي دغه کتاب لس جلده ؤ، خو اوس په لاس کي نسته، خو هغه څه چي بيهقي له هغه ورك کتابه نقل کړي دي هغه موږ صحيح ګڼو او د بيهقي پر واحد نقل قول ( سره له دې چي د دغه کتاب قديمه نسخه هم په لاس کي نسته) اعتماد لرو. او همدارنګه د محمود وراق ورك تاريخ مسامره خوارزم، مقامات محمودي او نور ټول د بيهقي مراجع دي، او ډېر زيات مواد يې له دغو کتابو څخه نقل کړي دي. همدارنګه منهاج سراج هم د سلامي، تکمله اللطايف، احداث الزمان تاريخ مجدول، منتخب تاريخ ناصري، نسب نامه غوريان او تاريخ نابي له ورکو کتابونو څخه مطالب راوړي دي او اوس د دغو کتابو نسخې زموږ په لاس کي نسته، خو د منهاج سراج پر قول اعتماد کوو، سره له دې د دغو کتابو هم د جوزجاني او بيهقي عصر ته نژدې نسخې اوس موږ نه لرو.

اوس نو که چيري موږ دغه فورمول د فارسي ژبې د تذکرو او تاريخونو په باب قبلوو نو د هيڅ دليل ځای نه پاتيږي، چي هغه د محمد هوتك په باره کي هم ونه منو، که چيري د محمد هوتك نقل قول په دې نسبت چي د دوولسم قرن سړی دی د قديمو آثارو په باب ونه منو نو دغه فورمول پر آتشکده آذر او هدايت پر مجمع الفصحاء هم د تطبيق وړ دی او موږ بايد د دغو کتابونو واحد نقل او اخبار هم ونه منو ځکه چي آذر او هدايت هم د ۱۲ او ۱۳ قرن خلك دي.

خو څرنګه چي دغه ډول فارمول له محققانو سره نسته، نو بايد پرته له کومي ملاحظې او خاصه تعصبه دغه ټول کتابونه په يوه سترګه ووينو، مخصوصاً په هغو ځايو کي چي مؤلف کتاب او يا اروېدني ته حواله ورکوي، او له ځانه څه نه ليکي لکه محمد هوتك چي د پخوانيو دغو اصولو سخت پابند دی، خصوصاً د امير کروړ د احوالو او شعر په راوړو کي خپل ماخذ لرغوني پښتانه د شېخ کټه متې زي غورياخېل بن شېخ يوسف بن شېخ متی (حدود ۷۵۰ هـ ق) تاليف ښيي، خو څرنګه چي شېخ کټه په خپله دغه مواد له تاريخ سوري د محمد بن علي بستي له تاليفه نقل کړي وو، نو د محمد هوتك د روايت عنعنه هم په دې خصوص کي ښه معلومه ده، او لکه چي د منهاج سراج او بيهقي پر هغو مطالبو چي له ورکو کتابو څخه يې اخيستي اعتماد کوو، نو دغه رنګه بايد په پټه خزانه کي د محمد هوتك نقل قول هم د اعتبار او باوړ وړ وګڼه سي.

حال دا چي موږ د امانت رعايت د ده په هغو نقلونو کي چي
يې له مخزن افغاني، د رحمان بابا دېوان، د عبدالقادر خان دېوان او خوشحال خان له اشعارو کړي مومو نو له ورکو کتابو څخه د هغه په
نقل قول هم بايد باور ولرو، او لکه چي لوړ مو وويل دغه ډول نقلونه په نورو تذکرو کي هم سته، او يا پخپله د مؤلفانو ضبط کړي مواد هم
پکښې پيدا کولای سوای، چي د تاريخ ادبيات پنډ ټوکونه ورڅخه
ډك دي، او حتی تر هغه چي لباب کامله نسخه نه وه پيدا سوې له
لباب الالباب څخه دعرفات العاشقين په وسيله د هدايت پر وروستي
نقل هم اعتماد کېدی، څو چي براون انګليسي په ۱۹۰۳ _ ۱۹۰٦ م کال لباب الالباب نشر کړ نو د مرحوم نفيسي په قول هدايت د لباب زيات

مواد له عرفات څخه اخیستي وو، او داسي یې ښوولة چي ګویا ده په خپله مستقیماً لباب لیدلی و (وګورئ د لباب الالباب مقدمه، سعید نفیسي ۱۳۲۵ تهران) ښه اوس نو باید دا روښانه سي هغه زیات مواد چي لباب الالباب،
دولتشاه او نورو ډیرو تذکرو راټول کړي او حتی خپل ماخذ یې هم نه
دی ښوولی، نو څنګه به د محققانو د اعتماد او تسکین وړ وي او د
محمد هوتك هغې به نه وي؟ هغه خلك چي پټې خزانې ته په شك
ګوري په هماغه اندازه به نور خلك هم حق ولري چي د عوفي،
دولتشاه او نورو د مطالبو په باب هماغسي فکر وکړي، که چیري تعصب
له منځه یوسو نو د دولتشاه دا قول "ابو طاهر خاتونی ګفته که به
عهد عضدوالدوله دیلمی هنوز قصر شیرین که بنواحی خانقین است، بالکل ویران نشده بود و درکتابه آن قصر این بیت نوشته یافتند که بدستور فارسی قدیمست :

"هژ برابکیهان انوشه بذی
جهان بدیدار تو شه بذی"

(درست : نوشه) دا نقل څنګه دی؟ آیا د خاتوني مناقب الشعراء ورك نه دی؟ آیا یوازي د دولت شاه په همدې نقل اعتماد کېدای سوای له لرغوني پښتانه څخه د محمد هوتك نقل هم هماغه حکم لري، دغه رنګه په سلګونو مطالب په تذکروکي راغلي چي ناقل یې یوازي مؤلف دی که چیري دغه ډول مطالب او واحدي لیکني د پښتو دري او نورو ژبو له تاریخ ادبیات څخه لیري سي، نو ډېر دغه ډول آثار او شاعران به له منځه ولاړ سي، او د لیکونکي په قول به ننني محقق تش لاس پاته سي، او په تش لاس به سوداګري کوي.

بیا لیکي "تاریخ په واضحو ټکوکي نه څرګندوي چي د دغه
عصر خلکو په (۸ میلادي قرن) کي او یا تر هغه وړاندي په عمومي
ډول په کومه لهجه خبري کولې او رسم الخط یې څه و؟ خو ځیني
تیت و پرك اسناد دا ښیي چي د هیواد د مختلفو قومونو خلکو خپلې ملي او محلي ژبې د نورو ژبو له مداخلې پرته لږ و ډېر په خپل رسم الخط لیکلې او حتی د مرکزي اوکوهستاني خلکو ژبه او لهجه د اسلامي دوهمي پېړۍ په اوایلوکي د عربو د کلام له نفوذه خالي وه، او دا هم
په دې اعتبار چي تر هغې پوري د عربو مادي او معنوي اثر په عام او
تام ډول غلبه نه وه کړې، اوکه کړې یې هم وه، په خپلو لومړنیو مراحلوکي وه.

د پښتو او دري ژبو قدامت کولای سي له اوستا او ویدي سرودونو او د یونان او عربو د مؤرخینو له لیکنو څخه ثابت کړو. خو خبره د ملي ژبې د اوسني رسم الخط په موضوع ده، څو پوه سو چي له کومه وخته یې په دې شکل او قیافه ظهورکړی دی، او منځ ته راغلې؟ ومو ویل چي په دوهم هجري قرن کي د عربو نفوذ خصوصاً په مرکزي سیموکي له سره نه او که و هم په داسي بڼه نه و، چي په کُلي ډول د دوی په ژبه، دین او لیك او لهجه کي کم ژور اغېز ولري، بله دا چي هغه قدیم ماخذ چي زموږ په دري او عربي ژبوکي سته اوکولای سوای چي په اوسني وخت کي د هغو له مخي اظهار وکړو هغه تاریخ بیهقي ، طبقات ناصري، فتوح البلدان، شهناه طبري او د بېطرفو مؤرخینو او پوهانو آثار دي.

دوی او نور ډېر معتبر ماخذ په دې عقیده دي چي اسلام حتی تر څلورم هجري قرنه پوري د غور په سیمو کي نفوذ نه درلودی، نو پر دې اساس تر دغه مهاله د عربو هیڅ ډول تاثیر د دوی پر ژبه او رسم الخط نه و وارد سوی که چیري د دغي ژبې خط اوکتابت تر لاسه سي، نو هغه به هرو مرو عربي رسم الخط نه وي او د دغه رسم الخط نحوه موږ د اوسنیو پیدا سووکتیبو له مخه ټاکلای سوای زما په عقیده عربي رسم الخط په پښتو ژبه کي د

دري په څېر هغه وخت داخل سو، چي عملاً دغه سيمي د مسلمانو امراوو تر تسلط لاندي سوې.
دا چي اسلام د غزنويانو په وسيله د غور سيمو ته تللی وي، نو څنگه کېدای سي چي عربي ژبه دي تر هغې دوه قرنه دمخه دغه سيمو ته تللې وي او عربي ژبي دي هورې دوني نفوذ وارد کړی وي چي امير کروړ دي په عربي رسم الخط زموږ عصر ته خپل شعر په هغه فصاحت او بلاغت يادگار پرېښی وي؟
که چيري دغه له توقع خلاف نفوذ دوني ژر د غور په سيمو کي خپور سوی وي، نو بايد د دوی کتيبې هم پر عربي رسم الخط اوښتي وای (تم کلامهم)
د دې ليکني لومړنۍ برخه د تاريخ له مثبتو واقعيتونو سره منافي ده.
لومړی دا چي د رسم الخط مساله د ډېرليکونو، پيداسوو مسکوکاتو د هند، عربو او يونان د مؤرخانو د ليکنو او دين کتابو لکه اوستا او پهلوي او چيني سفرنامو څخه ښه ښکاري دا چي اوستايي خط په پخواني آريانا کي معمول و پخپله د اوستا کتاب له مثبت سند څخه معلوميږي چي دغه اثر په بلخ، سيستان، د هلمند په وادی او رخذ پوري اړه لري او اوستايي، رجال او وقايع زياتره د افغانستان دي دا چي په يوه مملکت کي دين او کتاب منځ ته راځي او هغه کتاب هم په يو رسم الخط کښل کيږي نو ويلای سو، چي دغه خط په دې مملکت کي رواج نه درلود. "او تاريخ دا په صراحت نه راښيي".
د يوناني رسم الخط په سلگونو ليکني او مسکوکات چي د افغانستان په داخل کي پيدا سوي او د نړۍ په موزيمونو کي ساتل کيږي نو د هغو له مخي حکم نه سوای کېدای چي د سکندر له هجومه (۳۳۰ ق م) وروسته تر اتو نهو قرنو پوري د افغانستان رسم الخط يوناني ؤ؟
د موريايي پاچا آشوکا (۲۷۳ _ ۲۳۲) ق م د ديني نصايحو کتيبې چي په مانسهره او شهباز گړي کي پيدا سوي دي، په خروشتهي او پراکريت رسم الخط کښل سوي او هغه کتيبه چي له درونټې تر لاسه سوې په آرامي رسم الخط او د کندهار د زاړه ښار په يوناني او آرامي رسم الخط دی. نو آيا په قطعي صورت دا حکم نسوای کولای چي په دوهم او دريم قبل الميلاد قرن کي يوناني آرامي او خروشتهی رسم الخط په افغانستان کي د سند تر غاړو پوري رواج درلودی او د خلکو رسم الخط و، او يا کېدلای سوای چي ديني نصايح دي د خلکو له رسم الخطه پرته په بل رسم الخط وليکي؟
د کوشاني عصر د اوايلو کتيبې په تخاري ژبه دي چي رسم الخط يې يوناني دی، د روزگان او جغتو کتيبې هم دغه ډول دي چي تاريخ يې تر پنځم ميلادي قرنه رسيږي او وروسته تر دې هم د ٦ _ ۷ م قرن کتيبې او مسکوکات په سره دا، برهمي، يوناني او پهلوي رسم الخط ليدل کيږي، چي دغو ټولو بيا خپل ځای کوفي او عربي رسم الخط ته پرېښوول، او دا چي ليکونکی وايي "چي محلي ژبي د نورو ژبو له مداخلې پرته لږ و ډېر په مخصوص رسم الخط کښل کېدې" دا خبره سمه نه ده دلته آرامي رسم الخط له بين النهرين څخه د هخامنشيانو په وسيله او يوناني رسم الخط د سکندر په وسيله او پهلوي رسم الخط د پارس د ساسانيانو له درباره او همدارنگه سره داناگري او برهمي رسم الخط له هنده نفوذ کړی دی او يوازي د خروشتهي رسم الخط پيدايښت د هلمند او سند تر منځ سيمي پوري اړه لري او ويلسون هم هغه د آريانا رسم الخط بللی دی (آريانا انتيکا) نو په دې حال کي نسوای ويلای چي تاريخ په صراحت دانه ښکاروي. آيا دغه اسناد تاريخ نه دی؟ که چيري دوی مدونو اوراقو ته تاريخ وايي، نو دي لطفاً د ښاغلي ليکوال کهزاد د افغانستان تاريخ دوه ټوکونه، او زما د افغانستان د مختصر تاريخ دوه جلدونه او د افغانستان بعد از اسلام لومړی ټوك ولولي د ژبي په باب قضيه هماغه ډول ده لکه چي تاريخ د کلتور د نورو څانگو او شقوقو په خصوص کي حکم کوي، او افغانستان د تمدنونو او فرهنگونو د تقاطع محل بولي نو له کمه ځايه دا ويلای سوای چي محلي ژبي د نورو ژبو له مداخلې آزادي وي. ډېر توراني لغات د کوشانيانو او هفتليانو له راتگ سره زموږ ژبي ته راغلل. په پښتو کي تر اوسه اولس، جرگه تغ، توره او په سلگونو قديمي ترکي

کلمې داخلي سوي دي او زموږ د ژبو جزو ګرځېدلي دي، د بغلان په ۲۵ کرښیزه کتیبه کي چي ټول کلمات يې قدیمه آریایي ریښه لري او لکه چي وويل سول په دې کتیبه کې هم د شرق او غرب کلتوري اثر لیدل کیږي.
د مندر کلمه چي په دې کتیبه کي استعمال سوې اصلاً د سنسکریت کلمه ده، چي د سرای، قصر او معبد او قرارګاه معنی لري، صریحاً د هند د کلتور او ژبي اثر ښيي، د نیسان میاشت له بابلي میاشتو څخه د یوې میاشتي نوم دی چي سریاني او یهودي تقویمونو کي هم ځای لري. دغه کلمه په اکادي کي :نیسن او په آرامي کي : نیس او په غربي کي نیسان ده چي حتماً د کوشاني دورې په تمدن کي د ساکا، ماد او هخامنشي تمدن له اغیزو څخه را داخله سوې او له بابل څخه يې آریانا ته سفر کړی دی.
په داسي حال کي چي افغانستان د قدیمو مدنیتونو، فرهنګونو د یو ځای کېدو سیمه وه نو څنګه مدعي کېدای سو چي زموږ ژبي دي (د یوې مقالې د لیکونکي په قول) د نورو ژبو له مداخلې څخه لیري پاته وي.
دا چي دی لیکي: د عربي ژبي او فرهنګ اغیزي تر څلورم هجري قرنه غور ته نه وې رسېدلي دا خبره سمه نه ده او نه اسلام اساساً د غزنویانو په وسیله په څلورم هجري قرن کي غور ته لاره پیدا کړې ده بلکي د حوادثو د واقع کېدو تاریخ بل ډول دی غور ته د عربو د فرهنګ رسېدل او د عربي ژبي تسلط په اول قرن کي دی.
منهاج سراج د غور د پاچا ملك شنسب بن خرنك د اسلام منل د حضرت علي (۳٦ هـ په وسیله ښيي (طبقات ناصري ۳۲۰/۱) امیر پولاد د ابو مسلم مروزي معاصر ګڼي (۳۲٤/۱) چي نېټه يې د ۱۳۰ هـ ق حدود کیږي.
خو د عربو او اسلام دغه نفوذ د غور لیرو سیمو ته ونه رسېدی څو چي په ۱۰۷ هـ ق کال عربي فاتح اسد بن عبدالله پر غرستان او د هغې سیمي پر حکمران نمرون حمله وکړه او وروسته يې د غور پر غرنیو خلکو هم حمله یووړه، د دې سیمي خلکو خپل اموال د غره پر سر په یوه غار کي پټ کړي وو، اسد تابوتونه جوړ کړل او خپل خلك يې په هغو تابوتونو کي کښېنول او په داسي وسیله يې هغه غار ته ورسول او په دې توګه يې هغه اموال را وایستل (طبري ٥/۳۸۷) تر کمه ځایه چي د تاریخ په پاڼو کي ثابته ده د غور د غرنیو لیرو سیمو خلکو تر ۲٥۳ هـ ق پوري اسلام نه و قبول کړی. (طبقات ناصري ۱\۳۱۸)
په داسي حال کي چي د غور امراوو د حضرت علي او هارون الرشید دربارونو ته تګ راتګ درلود او امیر پولاد د ابو مسلم مروي په جنبشونو کي برخه درلوده نو له همدې امله د عربو د مدنیت او دین نفوذ د غور په یوه برخه کي ښکاره دی او دغو امراوو خپل داخلي هویت د سلطان محمود او سلطان مسعود تر عصره ساته او دا امکان سته چي د غور غرنیو لیرو سیمو ځیني خلکو تر ډېره اسلام نه وي منلی مګر د عربو د ژبي او فرهنګ نفوذ د غور پر بلادو حتمي دی او دا ادعا باطله ده چي اسلام په څلرم هجري قرن کي دې سیمو ته نفوذ پیداکړی دی او د تېمور تر عصره هم په کامل صورت د غور سیمو ته اسلام لار نه وه پیدا کړې".
که چیري د طبري او طبقات ناصري لوړ اسناد ښاغلي لوستونکي وګوري نو به يې قناعت حاصل سي او دا به ورته ښکاره سي چي د مدعیانو خبري له تاریخي متونو سره برابري نه دي.
دا څنګه ممکنه کېدلای سي چي د غور امرا دي د خلافت دربارونو ته لاره ولري له فاتحو عربو رجالو سره دي محضور وي او هم دي د بومسلم مروزي په لښکرو کي عربي اشعار ویل کیږي او عربي ژبه دي د ادب او دربار ژبه وي، خو دغه امرا دي له فرهنګي محیطه دوني لیري وي چي په یوه کلمه عربي دي هم ونه پوهیږي.
د مقالې لیکونکی د ژبي او رسم الخط مساله یوه له بلې سره ګډه کړې او وایي "دا ډېره له امکانه لیري ښکاري چي په ۱۳۰ هـ ق کال کي دي هغه هم د اسلام په اوایلو کي د امیر کروړ په نامه یوه سړي خپل شعر په عربي رسم الخط انشا کړی وی".
دا باید وویل چي د پټې خزانې له هیڅ ځای څخه دا خبره نه زباتیږي چي دغه شعر په کوم رسم الخط و خو که چیري موږ دا قبوله کړو چي د غور د امیرانو کورنۍ له عربو او بومسلم مروزي سره د محشوریت په صورت

کي    هم په عربي رسم الخط نه پوهېدل، دا هم څه ليري خبره نه ده دوی به خپلي ژبي په يوناني خروشتهي او پهلوي رسم الخط ليکلي اوکله چي په ۱ _ ۲ هجري قرنونوکي د عربو نفوذ په هغو مناطقوکي اثرکړی دی نو بيا به يې په عربي رسم الخط اړولي وي د دري ژبي قديم آثار لکه د سيستان ذکرکوي د آتشکدې سرود يا بهرام‌ګور ته منسوبه منظومه (منم آن شيرګله) او يا هغه بيت چي د خانقين د قصر شيرين پرکتيبې کښل سوی و حتماً په اوستايي او يا پهلوي رسم الخط و خوکله چي يې دري تذکرو ته لاره پيداکړې ده نو هغه يې په عربي رسم الخط اړولی دی. نو پر همدې اساس   د رسم الخط مساله بايد له ژبي سره خلط نه کړه سي د اميرکروړ په وياړنه‌کي د ځينو ښارونو لکه زرنج، جروم، غرج او هريرا لرود نومونه بې له‌کومه شکه معرب سوي دي او موږګورو چي دغه نومونه په ټولو معاصرو جغرافيي آثاروکي    په همدغه شکل رواج لري او لکه چي دغه وخت عربي د ادب او دربار ژبه وه نو ضرور د خراسانيانو په عربي تاليفاتوکي هم دغه نومونه په معرب شکل استعمال سوي دي او دا چي د غور امرا په خراسان‌کي د ښار او دربار له خلکو سره محشور وو نو بنا پر دې د دغو څلورو نومو معرب شکل استعمال د اشعارو د جعل دليل نه سي کېدای حال دا چي موږ وينو د هرات د پوشنګ طاهري پادشاهانو چي له غوره ډېر ليري هم نه و پنځوس‌کاله وروسته په عربي شعرونه وويل.

بله دا چي په اول هجري قرن‌کي له عربي تسلط سره سم د اکثرو ښارو نومونه معرب سول، او بومي خلکو هم د هغو معرب شکلونو استعمالول لکه سګستان چي سجستان سو او زرنګ چي زرنج سو  او په ټولو دري او عربي اثاروکي يې همدغه معرب شکلونه مستعمل وکه چيري په اثاروکي     دغه نومونه په اصلي شکل هم راغلي نوکاتبانو او نسخه ليکونو دکښلو په وخت‌کي تبديل او تعريب‌کړي دي لکه د چول‌کلمه چي تر اوسه په پښتو او دري‌کي د وچي بيديا په معنی مستعمل لغت دی د تاريخ سيستان    په    نسخه‌کي په معرب شکل جول ليکل سوې ده همدارنګه رخج چي د پهلوي د "رخوت" او دري د "رخذ" معرب شکل دی په ټولو اثاروکي په همدې ډول ځای نيولی دی او ټول دغه تعريبات د عربو د دورو په هماغه اوايلوکي وارد سوي دي، او رواج يې پيداکړی دی د "جروم"کلمه هم د نوو راغلو عربو له خوا جوړه سوې ده چي د "ګرم"کلمه ( مرادګرم سېر دی) يې معربه‌کړې او جرم يې ځني جوړکړی دی.

او جمع ته يې "جروم" ويلي دي د سرد په مقابل‌کي چي معرب يې صرد او جمع يې صرود دی او جروم يې تودې ملځکي او صرود يې سړې غرنۍ سيمي بللې او دغه اصطلاح د هماغه لومړي قرن له اواسطو څخه جوړه سوې ده او په خراسان‌کي يې رواج پيداکړی دی او له هماغو لومړيو وختونو څخه يې دري ادب ته لاره پيداکړه او په پښتوکي هم مستعمله سوه حال دا چي عربو په خپله ژبه‌کي داسي څه نه درلودل.

دی بيا ليکي : " دا خبره د زمان له نوادرو څخه ده چي د غور خلکو دي د اسلام له نه منلو سره سره بيا هم د يوه بېګانه رسم الخط له عهدې وتلي وي".

د غور د خلکو د اسلام منلو خبري پخوا شرح سوې او څوك چي دا خبره‌کوي چي غوريانو له اسلام سره هغه وخت تماس نه درلود د تاريخ د نصوصو له مخي دغه ډول خبري باطلي دي، دا چي‌کيس (معرب قيس) د پښتنو له نيکونو څخه يو نيکه د سلېمان له غرو څخه د حضرت محمد ﷺ په حضور مشرف سو نو دا خبره د ابن اثر په قول په اسد الغايه (٤/٢٣٩) او د حافظ ابن حجر عسقلاني په قول په الاصابه (٥/٢٦٨) کي ثابته ده، چي د دوی د رواياتو منبع هم‌کتاب الکبير دی چي د بلخ د خلکو په طبقاتوکي‌کښل سوی دی (فضايل بلخ ٣١٧) موږ نه سوکولای چي د دغو ثقه او معتبروکتابو روايات هم له يوه سره ناليدلي وګڼو.

عربي رسم الخط حتماً د اسلام په لومړيو دوو پېړيوکي افغانستان او غور ته رسېدلی و او حتی زر ميله له غوره ليري يې مشرقي سمت ته هم سيرکړی و، د وزيرستان د توچي‌کتيبه چي اوس د پېښور په موزه‌کي محفوظ ده په دوو ژبو سنسکريت او عربي    په سره دا اوکوفي رسم الخط په (٢٤٣ هـ ق) کال‌کښل سوې ده او دا خبره

زباتوي چي د امیرکروړ له عصره سل کاله وروسته عربي رسم الخط حتی د وزیرستان غرو ته هم لاره پیدا کړې وه.
اوس راغلو دې ته چي دی لیکي :
"د امیرکروړ ژبه مخلوطه ده". حال دا چي د امیرکروړ په حماسه کي پرته له څلورو معرب سوو مکاني نومونو ابداً او اصلاً بله کلمه چي پښتو نه وي نسته او حتی ځیني داسي کلمات هم پکښي راغلي دي چي اوس یې پښتانه نه پېژني خو د ریښه پېژندني په مدد یې په حل بریالي کېږي، آیا موږ کولای سو ی د داسي یوه شعر ژبه دي مخلوطه وبولو او که یې څوك مخلوطه ګڼي نو دا سوال پیدا کېږي چي له کومي ژبي سره؟ آیا څوك کولای سي چي په دې حماسي شعر کي د بلي ژبي یوه کلمه هم وښیي او فرضاً که له نورو ژبو سره مشترکات ولري هغه هم له عربي سره نه دي له دري سره به وي چي دا امر پخپله طبیعي دی او لکه چي په غورکي دواړې ژبي پښتو او دري رواج وې نو د دواړو ژبو لساني نزدېکت حتمی دی، خو دا باید هېره نه سي چي د امیرکروړ د شعر ژبه مخلوطه نه ده او دا خبره ژبپوهانو ته ښه ثابته ده.
بیا لیکي : "که د ښاغلي حبیبي په قول تر اسلام وړاندي د غور د خلکو ژبه پښتو وه نو تر امیرکروړ وړاندي یا وروسته آثار به لاس ته راغلي وای، او یا به موجود وه".
دلته باید وویل سي: "ما نه دي ویلي چي تر اسلام مخکي د غور د خلکو ژبه پښتو وه، خو ما دا په حدس سره کښلي دي یوه ژبه چي په لومړي اسلامي قرن کي دومره مستعده وي او داسي لوړ حماسي افکار پکښي ادا کېدای سي نو بایده یوه نوې او ابتدایي ژبه نه وي". اما دا چي د غور د ځینو خلکو ژبه لکه اوس پښتو وه دلته له تاریخ بیهقي څخه یو دلیل راوړم که چي د ٤١١ هـ ق کال په جمادی الاول کي شهزاده مسعود بن سلطان محمود د غور د جروس پر ناحیه حمله وکړه نو بیهقي لیکي : "دانمشندی را برسولی آنجا فرستاد بامرد غوری ... تا ترجمانی کند" (ص ١٢٥) له دې څخه ښکاري چي د غوري خلکو ژبه پرته له دري بله ژبه وه او د سلطان مسعود استازي حتماً په دري پوهېدی او غوري ترجمان ته یې احتیاج درلود نو دلته باید دا وویل سي چي د غور خلکو په کومه ژبه خبري کولې؟ چي ترجمان ته احتیاج و څرنګه چي په غورکي د بلي ژبي څرك نه دی ایستل سوی نو په غالب ګمان به دغه ژبه پښتو وه. او دا چي دی لیکي چي ماقبل او مابعد آثار دي یې باید موجود وای که چیري موږ د هر ادبي اثر مخکیني اثر وپلټو، نو په دې اساس باید هر اثر مخکیني اثر ولري او دا هغه تسلسل دی چي د منطق له مخي باطلېږي، خو د غور په درباروکي د پښتو د وروستیو آثارو موجودیت له همدې کتاب "پټې خزانې" څخه ثابتېږي. او که چیري دوی د هر پاته سوي اثر ادبي سابقه غواړي نو باید دا پوښتنه وسي چي د دري او عربي ژبو د ادبي موجودو آثارو ماقبلي آثار چیري دي؟ که چیري موږ یو شعر په دري ادب کي قدیم وګڼو نو باید دا پوښتنه وکو چي د دغه شعر پخواني اثار څه وه؟ یا څه سوه؟ که مو نه کړه پیدا نو انکار به ځني کوو. دی بیا لیکي : "باید وویل سي چي دغه امیرکروړ یو مجهول شخص دی چي ټولو عربو او غیر عربو مورخینو د ده په باب یوه خبره هم نه ده کړې، دا خبره ډېره له باوره لیري ده چي مؤرخینو دي د داسي یو عظیم او قهار پادشاه له شخصیت څخه سترګي پټي کړي وي ځکه د ده په خپله وینا هرات جروم د ده د توري تر شپول لاندي و او حتی په روم کي هم پېژندوی وٌ".
دلته باید وویل سي چي د امیرکروړ دغه قطعه شعر یوه حماسه ده او حماسه ویونکی شاعر هر څه چي وایي چي ټول یې خارجي واقعیت نه لري په شعرکي تخیل، مبالغه، مفاخره غرور ظهورکوي، او دا چي شاعر وویل چي ما خلك په روم کي هم پېژني نو دا حتمي نه ده چي موږ دي یو نوم د روم په تاریخ کي ولټوو او که مو نه کی پیدا نو به ووایو چي دغه شاعر موجود نه و، شاعر د خپل شهرت په بیان کي مبالغه کوې، که چیري یې دی په هرات او جروم کي پېژانده نو دا خبره به مبالغه نه وي خو په روم کي یې پېژندنه د هغه عصره له محدودو وسایلو سره یوه مبالغه ده او واقعیت نه لري اما دغه مبالغه یوه بیاني او شاعرانه مبالغه ده چي نظایر یې په ادبیاتوکي ډېر

دي دا دوه لاندي بيته د همدغه ډول مبالغې له نمونې څخه ولولئ :

خداوندی شهی گیتی ستانی
که شاهان جهانش بندگـــانند
گهی آثار او در هنــــــد بینند
گهی فرمان او در روم خوانند

(جمال الدين محمد نصير لباب ١٠٧)

چي واقعاً د دغه شاعر ممدوح چا په هندکي نه پېژاند او نه يې په روم کي فرمان ويل کېده.

که چيري موږ دغه ډول مبالغي تاريخي واقعيتونه وبولو، نو هغه وخت چي د يعقوب ليث صفاري د دربار عربي ويونکی شاعر متوکلي د هغه له خولې يوه قصيده په حماست او مفاخرت کي وويله او هغه يې د بغداد خليفه ته واستوله آيا دغه دوه بيتونه بېله شاعرانه مفاخرې په تاريخ کي هم واقعيت لري؟ هغه ويلي و :

انا ابن الاکارم من نسل جم
و حايز ارث مـــلوك العجم
معی علم الــــکابيان الذی
به ارتجی ان اســـــود الامم

آيا په رښتيا يعقوب د جم له نسله و؟ آيا دکاويان بيرغ له ده سره و حال دا چي دغه بيرغ د ساسانيانو په زمانه کي (١٤ هجري ) د قادسيې په جګړه کي د عربو فاتحانو په لاس ورغی او د غنايمو په جمله کي تقسيم سو.

تر امير کروړ څلور سوه کاله وروسته د ده له اخلافو څخه سلطان علاء الدين حسين د غزني له ورانولو وروسته ويلي و :

جهان داندکه سلطان جهانم
چراغ دوده عبـــــــــاسيانم
چو برگلگونه دولـت نشيـنم
يکی باشد زميـــن و آسمانم
همه عالم بگيرم چون سکندر
بهر شهري شهی ديگر نشانم

(طبقات ناصری)

آيا دغه اشعار ټول واقعيت لري او حقيقتاً دی د جهان سلطان و؟ اوکولای يې سوای چي د سکندر په څېر جهانګيري وکي؟ حال دا چي څو موده وروسته د خوارزم په وسيله ونيول سو. که يعقوب ليث د جم د نسل ادعا او يا حسين د جهان د سلطانۍ دعوه د شاعرانه حماست په عالم کي کوي موږ پوهېږو چي واقعيت نه لري نو د امير کروړ تفاخر (چي يو محلي پادشاه و) هم له دغي مقولې څخه دي او په هغه وخت کي د ده د بين المللی شهرت سبب نه سوای کېدای. بيا ليکي : "طبقات ناصري يوازي له امير فولاد څخه (چي محمد هوتك هغه د شېخ کټه په قول د امير کروړ پلار معرفي کوي) خبري کوي او د امير يادونه نه کوي همدارنګه طبقات ناصري ليکي چي پس له امير فولاده سلطنت د ده ورېرونو ته منتقل سو، او پټه خزانه کاږي چي وروسته له امير فولاده امير کروړ پاچا سو دغه تناقض هم د تامل وړ دی". د امير کروړ د يادوني په باب د منهاج سراج سکوت د هغه د وجود د نفي دليل نه سوای کېدای ځکه تاريخي کتب يو د بل مکمل دي، هر مورخ د خپلو لاس ته راغلو معلوماتو او يا د خپلو اروېدنو او مشاهداتو له مخي په يوه موضوع کي معلومات ليکي او امکان لري چي د دغه مؤلف معلومات بل هم ليکلي وي، او يا يې دا بل نه لري خپله منهاج سراج وايي چي د طبقات د ليکلو په وخت کي له وطنه ليري

په دهلي کي وم زما معلومات او منابع په وطن (غور) کي پاته دي او هغه ته رسېدل دروند کار دی، د طبقات ناصري او محمد هوتك معلومات يو د بل مکمل دي په طبقات کي هم داسي مطالب سته چي هغه په
نورو کتابو کي نه سوای پيدا کولای، او موږ په دې دليل چي پخواني مولفين له دې معلوماتو خبر نه دي هغه موږ ثقه نه گڼو بله دا
چي په دواړو کتابو کي تناقض هم نه ليدل کيږي ځکه د غور په مختلفو برخو کي تل له همدې کورنۍ څخه شاهان موجود و او دا امکان
لري چي امير کروړ دي د امير فولاد د وربرونو تر څنگه د غور په يوه
برخه کي حکومت درلود، او تاسي د همدې کورنۍ د امراوو يادونه په منديش، خيسار، باميان، تخار، گيلان او کجران کي له همدې طبقات ناصري څخه پيدا کولای سئ بيا ليکي : "بايد دا خبره په نظر کي ولرو چي د عروضو علم د دوهم هجري قرن په اوايلو کي منځ ته راغلی دی د امير کروړ شعر سره له دې چي ملي او محلي صبغه لري خو بيا هم له بحورو او عروضو سره هم آهنگي نښيي او نه سي کېدای چي له هغو تشکيلاتو څخه ووځي او دا له محالاتو څخه گڼل کيږي چي د عروضو د علم له وضع څخه دي ډېر لېرکلونه وروسته يو ډېر متين شعر چي د عربو په بحورو متکي وي د عربو له نفوذ څخه په يوه ډېره ليري سيمه کي ويل سوی وي مگر دا چي دغه هم آهنگي او انسجام د تصادف او اتفاق په اساس وگڼو".
دغه ليکنه د علمي معاييرو له سير سره گردسره منافي ده، ځکه
عربي عروضي اوزان تر خليل بن احمد (متوفي ۱۷۵ هـ ق) دمخه د
عربو د جاهليت د عصر په اشعارو کي هم ليدل کيږي خو ترتيب او
تبويب يې خليل کړی دی، او موږ د عربو په وسيعو ادبياتو کي ډيري داسي قصيدې او پارچې وينو چي د خليل تر عصر دمخه منځ ته
راغلي دي او د خليل له عروضي موازينو سره تطابق لري، خو دغه قصيدې اساساً د خليل له عصره پخوا او حتی تر اسلام دمخه منځته راغلي دي خو که موږ فرض کو چي د امير کروړ شعر له عروضي موازينو سره برابر هم وي له "محالاتو" څخه نه سوای گڼل کېدای . مگر دا بايد وويل سي چي د امير کروړ شعر د خليل بن احمد له عروضي سيستم سره ابداً موافقت نه لري.
ماته خپله خو د خليل بن احمد په مشهورو عروضي اوزانو کي داسي وزن نه دی معلوم چي لومړۍ او
دوهمه مسرۍ يې د دريمي او څلورمي او مصراع څلور چنده وي. که چيري محترمو شکاکانو د دغه شعر وزن په عربي بحورو کي ښوولای وای نو به ډېره ښه وه دا خبره سمه ده چي د پښتو ځيني اشعار په عروضي اوزانو او بحورو سم دي مگر دغه قاعده پر ټولو مدونو او غير مدونو اشعارو جاري نه ده او هر شعر موږ نه سوای کولای چي د عربي عروضو په قالب کي واچوو. د پښتو اشعارو موازين له عربي څخه بېل دي، او د سلايبل فشار، آواز او نورو آريايي وزني خصوصياتو په وسيله يې سنجولای سوای.
بيا ليکي : "بايد دا خبره په نظر کي وي چي نثر له نظمه پخوا په پراخه پيمانه منځ ته راغلی دی کله چي
يو شعر په دومره لوړتيا او رواني د ۱۳۰ هـ ق په لاس کي وي نو حتماً بايد تر دې ډېر سچه اشعار او منثور اثار هم تر لاسه سي او موږ به عجالتاً تر هغې ورځي پوري دا انتظار وباسو".
که څه هم دا نظر درست دی چي نثر تر نظم وړاندي دی، خو د اتفاق له مخي د نړۍ د قديمو ژبو پاته
سوي آثار ځيني منظوم دي لکه ويدا، اوستا، ايلياد او نور او که چيري په يوه ژبه کي قديم منثور آثار نه سي پيدا نو له قديمو منظومو آثارو يې بايد هم انکار وسي؟ او که داسي وي نو د دري ژبي قديم منظوم آثار چي په لومړي، دوهم، دريم قرن ته منسوب دي او اوس کشف سوي دي نو بايد له هغو هم لاس ومينځو او وايو چي د هغه

عصر منثور آثار ولي په لاس کي نسته؟ او په دې هم نه وپوهېدو چي "سچه اشعار" څه معنی لري؟ که چيري د امیرکروړ په شعر کي يوه اجنبي کلمه ښوولې واى نو موږ به ويلي واى چي دغه شعر سچه نه دی. تاسي دغه شعر د دري ژبي د قديمو مكشوفو آثارو سره چي په تاريخ سيستان کي ضبط دي کښېږدئ، نو به دا درته زباته سي چي کوم يو سچه دی؟ د محمد بن وصيف په يوه بيت کي له لسو لغاتو څخه نيم لغات عربي دي د هغه شعر خو د ٢٩٦ هـ ق په وقايمو اړه لري اما دغه بيتونه چي د امیرکروړ له عصره شپېته کاله وروسته وخت (١٩٣ هـ ق) ته منسوب دي :

ای رسانیده به دولت فرق خود تا فرقدین
گسترانیده بجود و فضل در عـــالم یدین

(لباب

٢٠)

د دې بيت له ١١ لغاتو څخه ٧ عربي دي نو زموږ دوستان دي د پښتو د نورو سچه اشعارو انتظار نه کاږي او دا ده پټه خزانه له خپلو ډيرو سچه محتوياتو سره د دوی په وړاندي ده، او د دغه ډول انتظار استحقاق نوري ژبي لري دغو ښاغلو ليکونکو له خپلو مذبوحانه تلاشونو سره (چي ټولي خبري يې غير علمي او باطلي دي) اصل مطلب ته رجوع کړې او خپل شك يې د پټې خزانې په باب داسي ښکاره کړې دی : " د هغو تشويقونو له مخي چي محمد هوتك د وخت د پاچا څخه ليدل نو يې دغه ډول مجهول شخص له مجهول ماخذ سره په خپل کتاب کي ځای کړی دی، د پټې خزانې ماخذ تر اوسه د هيڅ ځای څخه نه دی تر لاسه سوی نو ځکه بايد حتماً د محمد هوتك په خبرو سل په سلو کي باور ونه کړو".

پای

له دې خبرو څخه معلومه سوه چي دغه اشعار دغه دوستان د شاه حسين په تشويق د محمد هوتك جعل بولي بايد ووايو دا امکان سته، چي ليکونکی دي ځيني داسي مطالب جعل کي چي يوې زمانې او يوه سبك ته مربوط وي. خو موږ وينو چي په پټه خزانه کي د مختلفو سبکونو او مختلفو زمانو اشعار ليدل کيږي آيا دا ټول محمد هوتك جعل کړي دي؟ آيا داسي کېدای سوای چي يو سړی دي د مختلفو ذهنيتونو او ذوقو او تخيلاتو سره په مختلفو لهجو شعر ووايي؟ او دا سړی کولای سي چي د امیرکروړ حماسه په هماغه خاص وزن او کلماتو جوړه کړي او هم دي د غزني د دربار د شعراوو په سبك د شيخ احمد اسعد او ښکارندوی غرا قصيدې هم ووايي او هم دي له لس گونو قطعي په لس گونو وزنونو او بحورو او لهجو په هماغو سبکونو وليکي. او په تاريخ دي هم دومره پوه وي. چي هيڅ شعر له تاريخي وقايعو سره هيڅ مخالفت نه ښيي نو داسي سړی که له محالاتو نه وي له نوادرو خو حتماً دي. که چيري د تذکرو په مطالعه کي دغه ډول تشك او بد ظني ته لاره ورکړو نو په لباب او نورو تذکرو کي د قديمو آثارو نقل په همدې سرنوشت اخته کيږي. که چيري يو سړی راولاړ سي او ووايي په لسگونو شاعران او قديم شعرونه چي په لباب او نورو تذکرو کي ضبط دي يا يې ماخذ نه دی ښوول سوی او که ښوول سوی هغه ماخذ ورك دی، نو دغه شعرونه عوفي او نورو په دې يا په هغه دليل جعل کړي دي نو آيا داسي سړي ته به مغرض او متعصب ونه واياست؟ دا چي موږ دغه ډول شکوك د پارسي او عربي د سلهاوو کتابو په رواياتو نه لرو نو آيا دا به له انصافه ليري نه وي چي يوازي د محمد هوتك په باب دغه ډول بې ځايه شکوك څرگند کړو؟

که چيري موږ دا فرض کړو چي محمد هوتك (لکه چي پر هغه خوارکي تهمت سوي دي) د پاچا د رضائيت د حاصلولو لپاره دغه زوړ شعر د امير اکروړ په نامه جعل کړی دی، نو يې ولي دغه جعل د امير فولاد او يا د هغه د پلار خرنك په نامه نه کاوه چي معلوم الحال او پېژندل سوي خلك وو، او په طبقات ناصري کي يې

احوال ضبط دي، چي په دې توګه به نه پر ده او نه د وخت پر باچا دغه ډول اتهام واردېدی خو محمد هوتك دغه کار ونه کړ، ځرنګه چي يې قديم سند درلود هغه يې د علمي امانت په توګه وښووه، او څه چي يې په هغه کتاب کي ليدلي و هغه يې وليکل ځکه محمد هوتك په دې پوهېدی چي د يوه مؤرخ او تذکره ليکونکي وظيفه دا ده چي خپل ليدلي او اورېدلي روايات ضبط کي، او خپل سند هم وښيي او که چيري په دې ډول د تذکرو پر اقوالو شك وکو نو به هلته دا خبره مصداق پيدا کي. "نه تو مانی نه او نی فخر رازی".

دا بايد پټه پاته نه سي چي د پټي خزانې اصلي خطي نسخه تر اوسه د وزارت اطلاعات په خطي کتب خانه کي محفوظه ده او هر څوك يې کتلای سوای، او په ۱۳۵٤ ش کال کي د همدغي نسخې له مخه عکسي هم چاپ سوه[۲].

لمن ليکونه

۱. د آثار الباقيه ترجمه ۲۲۹.

۲. پټه خزانه، څلورم چاپ د ۱۳۵٦ لمريز کال چاپ. سريزه.